شمالي وزیرستان: د تي تي پي ترهګریز برید ناکام شو

شمالي وزیرستان: سکیورټي فورسز د میرعلي سره نزدې په حیدرخیل سیمه کښې د تي تي پي ترهګریز حمله ناکامه کړې ده په داسې حال کښې چې تي تي پي په خپل دروغجن بیان کښې د امنیتي ځواکونو د ګڼو مرګ ژوبلو دعوې کوي کوم چې مسخره ده۔

د تفصیلاتو له مخې تیره شپه ترهګرو د معمول په ګزمه د امنیتي ځواکونو په ګاډو برید وکړ۔ امنیتي اهلکارو پر وخت د ځوابي اقداماتو په کولو سره برید شنډ کړ او ترهګر یې تیښتې ته اړ کړل۔ د ډزو په تبادله کښې یو شمیر ترهګر مړه او ژوبل شول۔

د پرله پسې ناکامیو او داخلي اختلافاتو له امله د تي تي پي بزدله ترهګر په ژوره مایوسۍ اخته دي، په داسې حال کې چې د ترهګرو مشرتابه د خپل لویدلي شهرت د ژغورلو لپاره دروغو بیانونو سهاره اخلي خو خلک د خوارج له اصلیت څخه ښه خبر دي او د هغوی دروغجن روایتونه ردوي۔